
پوهاند محمد بشیر دودیال، بخش: شعراء نخبگان و هنرمندان ۲۰۲۲/۰۷/۳۱

# د افغانستان په لوی قاموس کې
# د «استاد ایوب» لنډ ژوند لیک



استاد محمدایوب په ۱۹۲۶م.=۱۳۰۵ ل. کال کی د ننگرهار ولایت سره رود په ښایسته اوښنه هنرپروره او علم پروره ولسوالی کی د چهارباغ په کلي کې نړی ته سترگې پرانیستي وی. پلار یې محمد یعقوب نومید، چې هغه هم هنری استعداد درلود او د کلیوالیو خوښیو کې به یې گډون کاو ، د ده یو ماما (منگل) هم سندرغاړی و. په دې توگه هنر او موسیقی سره مینه او بوختیا د دوی کورنۍ کی له پخوا موجوده وه. ده د سیمې له علمدوسته خلکو څه ناڅه سواد هم زده کړ، ورسته یې د خپل ژوند زیاته برخه موسیقی ته وقف کړه. دا هغه وخت و چې ارواښاد محمد امین (ملنگ جان) نوموړی راډیو ته معرفی کړ. ده له استاد اولمیر، زاخیل، لالا، سنډول خان، سپین بادام، ښایسته گل، شمین گل او ثمین گل سره آشنایی لرله. په دوی ټولو کې ښایسته گل ده ته دهارموینی او سندرو په ویلو کی ډیره لارښوونه کړې ده. یو شمیر ځوان هنرمندان لکه رحیم غمزده او محمد شاه یې دموسیقی په برخه کې شاگردان دي، خو په سیستماتیک ډول یې نور شاگران ندی روزلی، ځکه چې د ده ژوند له هره پلوه پریشان و، خو ډیرو ځوانو هنرمندانو د ده سبک تعقیب کړ. دغه ذکر شوی کسان هغه وخت دمشرقی نامتو موسیقاران وو. نوموړی د پښتو په موسیقی کې یو ځانگړی سبک ایجادکړ. ځینو عوامو دغه سبک ته (ملنگ جانی) نوم ورکړی و، دا ځکه چې ایوب د ملنگ جان زیات شعرونه پکې ویلی و، خو غوره ده دا په پښتو غزل موسیقی کې د هارموینی له غږ سره ځانگړی سبک وبولو. ایوب استاد په پوره ریاضت او پوره دقت سره خپل هنر ټولنی ته معرفی او لږ موده کې یی زیات محبوبیت وموند. دی یو ولسی سندرغاړی و. وروسته یی راډیو او تلویزیون کی زیات شمیر سندری ثبت او ضبط شوی چی کوزه او بره پښتیخا کې مشهوری شوی. نوموړی به په ساده او کلیوالی جامو کی راډیو ته راته، چی چا ورته چندان پام نه کاو، خو د ده د هنر محبوبیت

او د سنددرو جادو او په هارموینه باندی کامل تسلط(وروسته تر زاخیل) راډیو او د پروګرامونو پروډیوسران دی ته اړ ایستل چی ډیرو پروګرامو کی دده سندرو ته ځای ورکړی، په تیره بیا د راډیو افغانستان دفرمایشی سندرو پروګرام کی به خامخا د زیات شمیر فرمایشونو له امله د ده یوه سندره وه. د ده د ژوند ډیره برخه په خپل کلی کی تیره شوه، خو کله چي تنظیمی جګړې پیل شوې ( له ۱۳۷۲ تر ۱۳۸۱) پورې پېښور ته مهاجر شو او هلته یی هم هنری فعالیتونه ترسره کول. پېښور کی يې له سیدعالم سره دخلکو دخوښیو مجلسو کې، په تیره بیا د کوزې پښتیخا د هنردوسته خلکومجالسوکی برخه اخیسته او یوشمیر کسټونه یی هم هلته ثبت کړل چی دهغو سندری د راډیو آرشیف کی نشته، یو شمیر یی د راډیو سندری دوباره کسټو کی ضبط کړی، په دې توګه یی هنری فعالیت ته دوام ورکړ. وروسته تر ۱۳۸۱ ل. کال هم زیاتره خپل کلی کې له خپلو وريرو سره اوسید، د ده یوه لور چې واده شوی ده ، له خپلی کورنی سره د مهاجرت له وخته تر اوسه پینډئ کی اوسي. زوی یې مخکی وفات شوی، د زوی له خوا لمسیان لری چې په کسب او کار او آزادو پېشو بوخت دی، دوی د هنر په لاره ګام ندی ایښی، خو د لور له خوا یو لمسی یی (کیهان ایوب) سندری وایی او خلک یی د خوښیو مجلسونو او ودونو ته غواړی. راډیو افغانستان په ۱۳۸۹ل. کال کې د راډیو افغانستان په لوی تالار کې د پخوانیو هنرمندانو په درناوي یو پروګرام جوړ کړی و. دغه پروګرام ته زیاتره پخوانی هنرمندان دعوت شوی وو، لکه استاد مهوش، سیما ترانه، ولی محمد، ماشینی، ایوب استاد، بیلتون او یو شمیر نور. دوی ټولو کی ځوان هنرمند احمد مرید و چی له بهر څخه راغلی و. له دی امله چی ایوب استاد ناروغ و، خو بیا هم د حاضرینو په ډیر ټینګار، په خورا زحمت سره ستیژ ته پورته شو او صرف یوه سندره یی وبلله. حاضرین ورته ودریدل او ډیر تود هرکلی یی وشو او ټولو ورته لاسونه پړکول.

دایوب استاد ژوند په بیوزلۍ کې تیر شو. د ژوندپه وروستیو کی ډیر کلونه ناروغ و. مقاماتو تر پایه کومه پاملرنه او مرسته ورسره ونه کړه. باید وویل شی چی ملی سوداګر حاجی صاحب نجیب الله ضراب څو ځله ورسره نقدی کمکونه کړي دي. په راډیو او تلویزیون کی د ایوب استاد ۱۳۲سندری ثبت دی. مشهوری سندری یی دادي:

د اوښکو رود مـــي په ګـــريوان راغی

خاونده بیا زما په یاد مخ د جانان راغی

***

راشته جانانه ، شه مهربانه

به صفحهٔ قاموس کبیر افغانستان خوش آمدید

تیم بنیان گذار این قاموس آرزو دارد، داشته های این گنجینه که نمایانگر اصالت افغانستان باستان است شما را تا حد لازم مدد رساند

لیونی کیزم، ستا له هجرانه

***

وخت مازیګر دی ، جینکی ګودر ته ځینه،

وخت مازیګر...

***

زمـا ځوانی ډول کـوی له پښـتوالی سره

زه په پښتو او پښتونواله باندی سر ورکوم

***

لیونی مینی کړم آشنا له بیابانه سره

پریږدئ چې ګرځم لیونی په غرونو

او ډیری نوری.

استاد ایوب د ۹۵کلونو په عمر، په ۱۴۰۰کال کې د خواری او ناداری په حال کې له نړی سترګی پټې کړی، الله (ج) دی جنتونه ورته نصیب کړي. یاد او خاطرات به یې تل ژوندي وي. ایوب نه هیریدونکی نوم دی اود ده هنر د ولسونو زړونو کې ځای لری او هیر به نشی.

به صفحهٔ قاموس کبیر افغانستان خوش آمدید

تیم بنیان گذار این قاموس آرزو دارد، داشته های این گنجینه که نمایانگر اصالت افغانستان باستان است شما را تا حد لازم مدد رساند